ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۱۰/۲۷

# له جون الیا څخه د هغه د مینې په اړه څو پوښتنې

پوښتنه: تا له یوې ښځه زیاتې مینې کړې، خو یوه دې له ذات سره تړلې ده او هغه زاهده حنا ده! له هغې سره دې مینه څنګه وه؟

ځواب: له زاهدې سره د مینې کیسه داسې وه، چې زموږ کور په ګارډن ایسټ کې و، یوه ورځ مېرمن قزلباش راغله، هغې سید محمد تقي (د جون ورور) ته وویل: زموږ لور ته یوه ښځه کار کوي، هغې دا مضمون لیکلی، نو که تاسې یې په جنګ ورځپاڼې کې چاپ کړئ!

تقي صیب وویل: دا مضمون له جنګ ورځپاڼې سره اړخ نه لګوي، جون ته یې ورکړه هغه به یې په انشا کې چاپ کړي. مضمون ډېر ښکلی و، د یونان په اړه و، چې له یو څه ځنډ وروسته نشر شو، عنوان یې (یونان د تمدن زانګو) و.

یوه ورځ د مېرمن قزلباش کره ورغلم، چې کور ته یې ور ننوتم، هلته یوه نجلۍ ناسته وه. ما نوی کوټ اغوستی و، هغې ته مې وویل: زه جون الیاء یم، مېرمن قزلباش مې پکار ده.

هغې له یو څه حیرانتیا وروسته وویل: ته جون الیاء یې؟

ما وویل: هو!

هغې وویل: زه زاهده حنا یم.

دا مې له زاهدې سره لومړۍ لیدنه وه. هغه مهال ۱۶ کلنه وه، ۷ کاله زموږ ملاقاتونو دوام وکړ او بیا مو واده وکړ.

خو اوس زه خانه بدوش یم، نه دلته او نه هلته څه لرم، هره ورځ ماتیږم او شیشې سمبالومه.

خو یوه خبره ده، چې ما د زاهدې په لیکنې کې کوم زور او طاقت ولید، هغه مې د مینې بنیاد و.

که نن هم ځوک راځخه وپوښتي چې ځوک د ژبې له لحاظه د لومړي صف خلک درته ښکاري، نو یو لوی نوم به یکې د زاهدې حنا هم وي. دا د ایمانداري خبره ده. زه سلام ورته کوم، هغه د اردو ژبې ښه نثر لیکوونکې ده. هغې ته ډېر کم وخت په لاس ورغی، دومره څه یې و نه لیکل چې د باقي پاتې کېدو لپاره مهم وي، خو دا هم ضروري نه ده، هغه په خپل یوه کتاب هم ژوندۍ پاتېدلی شي. ما د هغې په اړه ډېرې ګستاخۍ کړې دي. د مینې، غوسې، زړه تنګون او اضطراب پرمهال مې ډېره ځورولې، خو رښتیا دا دي چې اوس مې هم هغه د وجود دننه چیرته اوسیږي.

پوښتنه: له محبوب سره د ژوند تېرولو لپاره ډېرو تېرېدنو ته هم اړتیا وي، تاسې کې ځوک تېر نشو او که د مصلحت تولې لارې بندې شوې وې؟

ځواب: موږ ډېر ځله مصلحت وکړ، خو اصل مشکل دا و چې موږ کې کوم اختلاف نه و. دا ډېره حیرانونکې خبره ده، دا به د اردو ژبې لومړی رومان وي چې په مرکزي کرکټرونو کې یې کوم اختلاف نه و. که زه په جرمني کې وای او ایران کې کومه پېښه شوې وای او زاهده په کراچۍ کې ناسته وای، نو ما چې جرمني کې د پېښې په اړه کوم سوچ کولی، زاهدې به هم کټ مټ هماغسې کاوه، موږ یو ډول فکر کاوه او یو ډول مو مینه کوله. انسان دوسته وو، په منځ کې مو د شیعه، سني، دیني لا دیني او داسې او هاسې کوم اختلاف نه و. زه فکر کوم که داسې مینه هم ناکامېدلی شي، نو بیا یو ډول محبت هم کامیابېدلی نشي.

زه وایم، ضرور یې وایم او دا مې احتجاج دی چې هغې له ما سره بې وفایي وکړه.

پوښتنه: له لارو بېلولو وړاندې کله سره کېناستلي نه یئ، څو په مشکلاتو وغږېږئ، چې اخیر دا مشکلات دې څه شي؟

ځواب: یوه خبره به درته وکړم، چې ۱۹۸۷م کې هغه له بي بي سي را وګرځېده، نو ورته ومې ویل چې غمجنه یې...

یوه خبره ډېره ضروري ده او ته دا حتماً ولیکه، چې زموږ په کور کې له زاهدې سره انصاف ونشو او دا زما مشکل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

و. ما يي په سر له مشر ورور سره تلخ کلامي نشوه کولی. چي کله مي وليدل زاهده د مسلسلي بي کيفي، بي زاري او ډيپريشن ښکار ده، نو په خبرو خبرو کي مي له غوږه ور تېره کړه، چي فکر خو نه کوې له ما سره واده کول دي غلطي ده؟
اصلاً زمور له واده وړاندي هم په کور کي د واده خبري وې. په ۱۹۶۹م کي يوه ترقي پسنده افسانه ليکوونکي (سبط اختر) له هندوستانه زموږ کره راغله او ما ته يي زما د خور خط راکړ. يوازينی خور مي (شاهِ زنان) په خط کي ليکلي و چي: جون ما ستا لپاره يوه نجلی ليدلي، د قاضي نها احمد لور ده، غواړم چي واده دي ورسره وکړم، که ته يي ووينې نو ډېره به دي خوښه شي، زياته ښکلی ده.
هغه خط ماسپښين راغی، زاهدې ته مي هم ولوسته، د هغي څېره ژيړه شوه، پرېشانه وه او بالاخره يي په همدې پرېشانی کي راته وويل چي: جون! که ته پنځوس ودونه هم وکړې، نو يو پکي له ما سره وکړه!
په بې پرواييی مي ورته وويل: غرقه شي! پنځوس ودونه نه کوم او نه د خپلي خور خبره منم.
هغه مهال د زاهدې داسي حالت و، لکه نن چي زما دی، د يو مات شوي انسان غوندي.
جون الياء چا چي زاهدې څخه زاهده حنا جوړه کړه.
که يو څوک ۱۶ کلنی نجلی پيدا کړي، نو څومره تربيت به ورکړي؟ زه خو هېرونکی انسان يم، په ټوله ورځ کي کم له کمه ۱۰ داسي الفاظ هم وايم چي معنی يي ازدو ژبو ته هم معلومه نه وی.
يعني په ۷ کاله ميني او ۲۳ کاله واده کي مي د هغي تربيت وکړ.
پوښتنه: په ستونزو سره غږېدلي وئ؟
ځواب: هو، بار بار ورسره غږېدلی يم، له بېلتون يوه ورځ وړاندې زاهده ډېره غمجنه وه، ورته ومي ويل: ډېره خفه معلومېږې، داسي خو به نه محسوسي چي له ما سره دي د واده پرېکړه ناسمه وه، کومه پښېمانتيا خو به نه لرې؟ په واده خو به خفه نه يي ځکه تا کي هغه زور نه دی پاتي، که پښېمانه يي نو علاج دي کېدلی شي!
هغي چي کوم ځواب راکړ، مطلب يي دا و چي شايد همدا سبب وي. زاهده هماغسي خفه ناسته وه او زه د کتابتون خوني ته لاړم، هلته مي وليکل: زه سيد جون الياء د علامه سيد شفيق حسن الياء زوی د زاهده حنا بنت شيخ ابوالخير خاوند يم، خو دا محسوسوم چي مېرمن مي ډېر بې زاره ژوند تېروي.
زه چي کله فکر کوم، يوه وجه يي دا راوځي چي اوس مو د پخوا په شان سيکه نه چلېږي او دي لوري ته زاهده هم پوره پام نه کوي. ممکن زموږ اقتصادي ستونزې د هغي د بې کيفي سبب وي، خو دا هم ممکنه ده چي هغه له ما سره په واده پښېمانه وي، نو ځکه له انتهايي درد او غم سره يوځای د ذهني سکون په خاطر هغي ته طلاق ورکوم، ځو ارامه شي. دا چي نن سبا له سخت غربته تېرېږم د مهر پيسي يي نشم ادا کولی، اينده کي به يي پرې کړم.
دا طلاق نامه ده، هيله من يم چي له دې وروسته به پرسکونه شي او پښېمانتيا به يي ختمه شي. خط مي هغي ته ورکړ او خبره ختمه شوه.
څو ورځي بعد مي ورته وويل: ما کاغذ درکړی، اوس بايد مطمئينه شي، ته ازاده يي، هر چيرته چي وغواړې اوسېدلی شي، خو اوس هم خفه او بد زړه يې؛ اخير ولې؟
څه وخت وروسته مي ورته وويل: که ستا د غم او پرېشاني سبب واده نه وي او پرې پښېمانه نه يې، نو د طلاق نامي هغه خط وشکوه. هغي وويل: هغه خو مي لا وختي شکولی او ختم کړی دی. څو ورځي وروسته چي دفتر ته لاړم، زاهده له ما مخکي رسېدلي وه، علامه طالب جوهري چي د شيعه ؤ تر ټولو ستر عالم و، هلته ناست و. هغه هم د زاهدې غوندي له اره د بيهار ايالت و. راته ويي ويل: حضرت! دا تا زاهدې ته څه ليکلي دي؟ ما ځواب ورکړ: ما خو څه نه دي ليکلي، څه مي چي ليکلي و، هغه زاهدې وشکول، دا ده ناسته ده، پوښتنه تري کولی شي.
په دې سره زاهدې وويل: ما طلاق نامه شکولی نه ده، بلکي راڅخه ورکه شوه.
بس همدا کيسه ده، چي هيڅ درواغ پکي نشته.
لومړی ما په غيرقانوني توګه طلاق نامه ورته وليکله او وروسته هغي په قانوني توګه د طلاق غوښتنه کوله.
د کوم کار له امله ګلشن څخه ګاردن ايسټ ته تلم، نو له زاهدې مي وپوښتل: تر څو هلته پاتي شم؟
هغي ځواب راکړ: دا چي هلته په کتابتون کي کار لرې، نو دوه، دوه نيمي مياشتي تېرې کړه او بيا راشه.
له دې وروسته زموږ ليدل او خبري کم شول، چي نه پکي د ميني او نه هم د جنګ کوم څرک ليدل کېده.
د ۱۹۹۴م کال د جنوری خبره ده. يوه ورځ زاهدې زنګ راوکړ چي طلاق راکړه. ما ورته وويل چي: زه طلاق نه پېژنم. که څه هم ما عربو ته عربي ورښودلي، خو هغي ته مي وويل چي: دا ته په کومه ژبه کي خبرې کوې؟ چي ما درسره مينه کړې وه يا تا له ما سره کړې وه، نو له يو بله مو پوښتلي و؟ خو هغي ټينګار کاوه. ما وويل: ته کله پابنده يې؟ څه دي چي زړه وي ويې کړه! خو هغي ويل چي د زړه د تسکين په خاطر بايد طلاق راکړې.
ځواب مي ورکړ: ته هغه ټرمنالوجي غږوې، چي زه تري نفرت کوم.
ما يي د پوهولو ډېر کوښښ وکړ، ورته ومي ويل: ستا طلاق به ما کمزوری نه کړي، خو په زوی او لورنو به مو بد اثر وکړي، ځکه د مات خاندان ماشومان مسکين او ناروغ ښکارېږي. داسي مه کوه، طلاق مه اخله، که غواړې بېله شې، نو کاغذ له ځان سره وساته، قانوني مسئله مه تري جوړوه، خو هغه په ضد وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له دې وروسته د DAK مشر جنرال محمد حسين سيد هم زاهدې ته ورغی چې مور، به څمکه درته واخلو، خو ته مه ببلېږه. بيا جميل الدين عالي هم د پوهولو لپاره ورغی، خو په هغې يې هيڅ اثر ونکړ او له ما يې قانوني خلع واخيسته. دا چې ولې يې داسې وکړل دا به وخت ووايي، زه نه!

پوښتنه: تا ته د يوې افسانه ليکوالې، کالم ليکوالې، نثر ليکوالې، ملګرې او مينې په توګه زاهده څنګه ښکاري؟

ځواب: ښه، غوره، په هر څه کې مې غوره وموندله!

پوښتنه: په دې مرکه کې چې تر ټولو بدخونده خبره کومه ده، هغه ستا دا ګمان او ټينګار دی چې زاهده مو جوړه کړه او هر څه مو ور وښودل، ايا دا ټينګار لکه ښکنځله داسې نه ده؟

ځواب: ښه خبره نه ده، داسې ويل ښه نه دي، تا سم ووېل، زه يې ښښنه غواړم.

اقتباس: ميں يا ميں کتاب

ژباړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ